
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# دَ خاطر دیوان

مصری خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# دخاطر دیوان

مصری خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خيبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
په دې خبر خيبر کښې څۀ دي چې لۀ خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



# فهرست

شمېر | مخ

( ا )

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا ______ ۱۴

۲ : چې اشنائي ستمګر شي نو به څۀ کا ______ ۱۵

۳ : نږوۀ چې کړی هر وخت د ددونه اشنا ______ ۱۶

( د )

۴ : کافي برقې دی دیدار د محمدؐ ______ ۱۷

( ل )

۵ : خیبر نن کۀ درته ما وکښل تا راوکښل ______ ۱۸

( م )

۶ : داسې تا د حسن تماشې وا خستم ______ ۱۹

۷ : دوا يه شم تا نه قربان څۀ وکړم ______ ۲۰

۸ : باغ د مينې دې د خيال پکښې غنچې کړم ______ ۲۱

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ


۹ : نهٔ ئکه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کېږم ـــــ ۲۲

۱۰ : شرمسره چې نه یم په څوانۀ پسې نهیږم ـــــ ۲۳

۱۱ : ستا په الفت کښې به هر بنیار نهٔ شم ـــــ ۲۴

۱۲ : واخلمه تا او کۀ دنیا واخلم ـــــ ۲۵

۱۳ : خوشحالی ستا شوه زهٔ ئې نهٔ اخلم ـــــ ۲۶

۱۴ : ئکه کلي چې په ازغو کښې ونیم ـــــ ۲۷

۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېرومم ـــــ ۲۸

۱۶ : اشنا کۀ تا نه په کتو پوه شوم ـــــ ۲۹

۱۷ : قسمته داسې دې ودهٔ کړم چې بیدار نهٔ شوم ـــــ ۳۰

۱۸ : نور به نیږدې نهٔ خاشیری چې څهٔ وایم ـــــ ۳۱

۱۹ : ته به کرعُب هسې بچلي نهٔ به مړیم ـــــ ۳۲

۲۰ : ځنکلي مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ـــــ ۳۳

۲۱ : رنګ ته چې ګرمه سره سکروٹ نهٔ یم ـــــ ۳۴

۲۲ : سپرلیه ! نهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ـــــ ۳۵

۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلے یم ـــــ ۳۶

۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ـــــ ۳۷

( و )

۲۵ : زوندی کله ته ما پهٔ دی بې له څاوره ـــــ ۳۸

۲۶ : څوره به زهٔ ئه دې په سرو سترګو ـــــ ۳۹

۲۷ : نور به څهٔ یرسې نما په تورو سترګو ـــــ ۴۰




مخ


۲۸ : بیا دې سیلی نهٔ کړم په هغو سترګو ـــــ ۴۱

۲۹ : ماد وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو ـــــ ۴۲

۳۰ : شوق چې ستا لهٔ وېره پیغور سره لاړ لو ـــــ ۴۳

۳۱ : باد شومه د عشق دګې نګونه په سر ونو ـــــ ۴۴

۳۲ : غو به سره پټې دراپه په نیږهٔ دره دره یو ـــــ ۴۵

۳۲ب : ځکه چې ئې په سرو شونډو تېر کړو ـــــ ۴۶

۳۲ج : منبر شوله د پښې انکار دې وکړو ـــــ ۴۷

۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ـــــ ۴۸

۳۴ : زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته ـــــ ۴۹

۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا مل بخښلے ده ـــــ ۵۰

۳۶ : خدایهٔ تراغهٔ شر د خپل وصل نامه پاتې ده ـــــ ۵۱

۳۷ : بېګا ستا په انتظار چې هسې سترې توله شپه کړه ـــــ ۵۲

۳۸ : لرې دنقاب لرې کړه دل زده کړه ـــــ ۵۳

۳۹ : ما په شرګو تا په خوب تېره کړه ـــــ ۵۴

۴۰ : رقیبه په خپل راغلې راشنا خبرې کړه ـــــ ۵۵

۴۱ : یا د شرابو نه نشې دباسه ـــــ ۵۶

۴۲ : د سحر باده دا ارمان یو سه ـــــ ۵۷

۴۳ : ئکه کلي د سرسپیدو وکه شه ـــــ ۵۸

۴۴ : ستالهٔ سپینه مخه ځار نما زړګے شه ـــــ ۵۹

۴۵ : د هجران په شپه درېو په لاس کښې راغله ـــــ ۶۰

۴۶ : ترخو ته چې نیږهٔ کېږی کله کله ـــــ ۶۱


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

۴۷ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې سپه شړله ________ ۶۲

۴۸ : بيا به سره وکړو اوس ځواني ده دمعه دړومه ________ ۶۳

۴۹ : شکر دے چې زړه هم د شپې شو مه ________ ۶۴

۵۰ : کله چې په فکر کښې دستا يمه ________ ۶۵

۵۱ : د لارې غبار سره شوم د ښپې کښې دتلې يمه ________ ۶۶

۵۲ : توبه څنګه تېرېږي کا په هوښيار باندې وختر نه ________ ۶۷

۵۳ : ما په مثال تکه پتنګ وګڼه ________ ۶۸

۵۴ : دستا د خلې چې فيصله مانه شي ________ ۶۹

۵۵ : ترد نصر په خرېږو کښې دافسون مه داکړه ________ ۷۰

۵۶ : ته خوايه زه به څه کړم، زړګيه لېونيه ! ________ ۷۱

ډ

۵۷ : څيګرې شو کباب په لمر اور د ګيډه ________ ۷۲

۵۸ : لوے دریاب دسیتې نه شي په د اپه زړه ________ ۷۳

ی

۵۹ : دا سپې بله شپه به په نصيب سره دا څي ________ ۷۴

۶۰ : عکس دستا زما دسترګو له ځمبان وځي ________ ۷۵





۶۱ : دستا سترګې چې کړغې د زړه نه وځي ________ ۷۶

۶۲ : زړګيه ! تا وړي چې درد ونه څه دی ________ ۷۷

۶۳ : چې پښېمان نه شي په يا کښې څه دی ________ ۷۸

۶۴ : کله دستا د خند په درشپې دی ________ ۷۹

۶۵ : دستا په غم کښې خوشحالي پټې دی ________ ۸۰

۶۶ : زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دی ________ ۸۱

۶۷ : څه څو مانه هسې بله دنيا ښکاري ________ ۸۲

۶۸ : زړه چې که هر څو رانه هر څه غواړي ________ ۸۳

۶۹ : زما زړه او دستا سترګې سره جوړيږي ________ ۸۴

۷۰ : ما نګاه شی به چې زړه د هرې څه ودونه دکا تېرېږي ________ ۸۵

۷۱ : څه چې پرې پښاف ما ديار سره جوړيږي ________ ۸۶

۷۲ : د مخت نګذار ومن چې د اغرنه نه جوړيږي ________ ۸۷

۷۳ : تو د په ايله څه د لېونو نه پاتې کيږي ________ ۸۸

۷۴ : سترګې دې کړه برنډي چې وختر نه دار خطا شي ________ ۹۰

۷۵ : په ارمان د ناکام شی چې هوښيار شي ________ ۹۱

۷۶ : د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي ________ ۹۲

۷۷ : چې چې د دنده دے دلبر به پېمانه شي ________ ۹۳

۷۸ : ستا چې څه دې زلفې کړ نې داتار شي ________ ۹۴

۷۹ : دلړاند چې به چې ما د ې چې کانه به شي ________ ۹۵


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لا پرېشي بهار راشي ګلان غر شاله شي ———— ۹۶
۸۱ : راشه په کوشر کښې د جګر خبرې نه شي ———— ۹۷
۸۲ : داستا په سترګو کښې به څه پاتې شي ———— ۹۸

## ے

۸۳ : زړه په داغه دے چې نا رسے مخ دے ———— ۹۹
۸۴ : څوک چې ستا د کراب مینې طلبګار دے ———— ۱۰۰
۸۵ : خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے ———— ۱۰۱
۸۶ : خدایه څو مره چې وفا زما دلبر دے ———— ۱۰۲
۸۷ : ما دې ځان راته اشنا د ستا په ښهر دے ———— ۱۰۳
۸۸ : شاته چې حسن دې اشنا د سرو لبو نه ډک دے ———— ۱۰۴
۸۹ : تک تور سرے د استا سرے وربل دے ———— ۱۰۵
۹۰ : څو مره وړې په زړګي باندې چې غم دے ———— ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے ———— ۱۰۷
۹۲ : چې نږدې ستا په تور دے په بل تورې پیوند نه دے ———— ۱۰۸
۹۳ : چې لمن نظر چې د بهر پاتې دے ———— ۱۰۹
۹۴ : سترګې دې چلې وخندا زده کړے ———— ۱۱۰

## ې

۹۵ : د ځان سپګار د ولو کښې سترګې دې مالیدې ———— ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې ن لیده تیرې وعدې را یادېدې ———— ۱۱۲
۹۷ : زما د امید ونې غوټۍ شیې وغن پدې ———— ۱۱۳
۹۸ : چې بنګلي دې وخندېدې ښرشهې ———— ۱۱۴



مخ
۹۹ : پره شوه په دې چې په کنځل کښې خکه بنګارې ———— ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې وګې له خندله سترګې لوې ———— ۱۱۶
۱۰۱ : کله دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې ———— ۱۱۷
۱۰۲ : د پره خوشحالي شه نه ده بیا راته هیرېږي ———— ۱۱۸
۱۰۳ : ګکه مجنون غرند دې ګرځم په بیابان د دپسې ———— ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ———— ۱۲۰
۱۰۵ : چې د سترګو دې بنګار نې زما سترګې ———— ۱۲۱
۱۰۶ : خود د هسې پرې کو غې شرې زما سترګې ———— ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نه وینم دا تورې سترګې ———— ۱۲۳
۱۰۸ : څه د شرې چې سترګې مې په تابانو خوږې شولې ———— ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا نې کړې ابسار پرېږم ولې ———— ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکې نه ګېږي غر راماتې شرې ———— ۱۲۶
۱۱۱ : نه به په زړه کښې ماته څه راکړې ———— ۱۲۷
۱۱۲ : نه ما ستا ښلي یې په سله نه لرې ———— ۱۲۸
۱۱۳ : هر غر ګه چې د زړه قرار ولاړ له راغې ———— ۱۲۹
۱۱۴ : داسې راته ګورې نه نه چې راته ګورې ———— ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا
خود لېمه شي کم طاقته په ژړا ته کا

چې پلو له مخه لرې کړي دنيا شي
لکه ستورګه د سبا چې راخاته کا

لږ يې عکس د زړه واخله که دې شک وي
چې دا تور باڼه دې څرنګه ويشته کا

په مئين زړه څنګدن شي چې يار راشي
په هيبت زړه په کوګل کښې الوته کا

د خاطر په زړه کې داغ د بېلتون ګوره
چې د يار په لور کاږه واږه کاته کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څه کا
چې زخمي څوک په ځيګر شي نو به څه کا

چې تول عمر يې تېر کړے په پالنګ وي
څه چې زمکه يې بستر شي نو به څه کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نه وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څه کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړو
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څه کا

که ديدن د يار موندے په ډېر عمر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څه کا

زه خاطر خو همېشه دغسې وايم
چې اشنا يې مرور شي نو به څه کا

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړۀ ئې کوی هر وخت دردونه آشنا
لږ خو ئې واوره هر يادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مينه کښې نۀ
ګوره داوښکو ئې سيندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصيدے انشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا ئے

ئن په جبين کښې دې خالونه څر دی
دی په چشمانو ئې ګردونه آشنا

کۀ ستا په خيال کښې دے اجل ته قريب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



کاڼي بوټي دی ديار د محمدؐ
ما منلي په ديدار د محمدؐ

ګرنګونه به يې لارې شي په مخکښې
کۀ چا ونيوله لار د محمدؐ

د دُنيا واړه ګلونه به يې هېر شي
کۀ چا وليدۀ ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنيا ژړا او خندا نۀ وے
نۀ وے شمع په مزار د محمدؐ

د يادونو يې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی يې قرار د محمدؐ

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن که درته ما وکړل تا را وکتل
خو ګوردم به دې بيا کهٔ دې سبا را وکتل

هم د غمسې ګلونه و د چې مينه جوړه ۀ
غمهٔ وشو پسر لے دے که اشنا را وکتل

دنيا را ته رنګونی د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلی دی هر چا را وکتل

پهٔ مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوهٔ
کهٔ غم دې را ته جوړ چې دې پهٔ شا را وکتل

دستي مې دښته و خندل هم دا مې وهٔ ارمان
تا چې اے رقيبه پهٔ خندا را وکتل

پو دم مې نږهٔ نرے شو لو هم ولو خاندګمهٔ
خاطر چې غريو نيولی پهٔ ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پهٔ سر لمبې واخستم

لاس خو ېې رانهٔ کړو چې مخ پټوی
ګوری ياران مې د غم شپې واخستم
دا درته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وا مې خله تهٔ چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بيا پهٔ زولنو کړې ګوره
نن يې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پهٔ سبا پوه نهٔ شوم
کهٔ دې د زلفو تورې شپې واخستم
ګوره د ژوندون را ته يو پور بنکاره شو
چې تصور د هغه ديږې واخستم
بس يادوم دې نورې مهٔ تنګوه
چې ته مې صبر نشي غمې واخستم

خاطره تهٔ او دا دنيا ږې پوه شه
نهٔ بس د عشق يوې قصې واخستم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ووایه شم تا نه قربان څهٔ وکړم
نور ددې د پاسه پهٔ ځان څهٔ وکړم

تهٔ خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زهٔ پهٔ دې شلېدلي گرېوان څهٔ وکړم
تهٔ خو چا ته نهٔ ورځې، خو زهٔ راغلم
ځ یم ستا پهٔ در کښې مهمان، څهٔ وکړم
زهٔ به نور څهٔ نهٔ کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څهٔ وکړم
ستا پهٔ طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو راند لاړل یاران، څهٔ وکړم
پوره دې چې پهٔ ځان کړم اوس چې نهٔ پرېږدې
بیا به راسې نهٔ کړم سلطان، څهٔ وکړم
چا به دغم ډک ښودندون اخستے وهٔ
بس خو چې پیدا شوم انسان، څهٔ وکړم

اوس خو زهٔ خاطر پهٔ څهٔ پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حېران، څهٔ وکړم

○

باغ د مینې دې د خیال پهٔ کښې غُنچې کړم
ستا د مغ پهٔ تصور کښې تماشې کړم

بل به نهٔ وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شُعله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړهٔ پهٔ ستړگو گورم
پهٔ ځان تېرې ښې او بدې راخورې کړم

نهٔ خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
بې لهٔ تا نه پهٔ خبر کښې ورځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم پهٔ شان دیدار ته اوبهٔ کېږم
پرېږده چې او بهٔ شم ستا رخسار ته اوبهٔ کېږم

چرته شي خوبونه شپې پرې ستوریکی محفل جوړ کړي
همدا يې مشغولا شي ستا سپېګار ته اوبهٔ کېږم

زهٔ پرې بندهٔ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا يې هم وار نهٔ شي ستا یو وار ته اوبهٔ کېږم

اوس خاطره ولې خدای پهٔ نهٔ کړم دومره سخته
بیا چې پس له مرګه ستا مزار ته اوبهٔ کېږم



ستا پهٔ اُلفت کښې به هوښیار نهٔ شم
څو چې د عقل نه وزګار نهٔ شم

سود يې د عشق پهٔ لېونتوب نهٔ شي
څو چې رسوا دې پهٔ بار بار نهٔ شم

یار بې وفا دې ماته هله وائی
چې تر پې لاسر او ماله زار نهٔ شم

څو چې پهٔ تورو خاورو موږ نهٔ شم
موږ به دې هومره پهٔ دیدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې پهٔ دار شم اشنا
دا ستا له عشق به توبه ګار نهٔ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړے[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نهٔ شم

[1] [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکۀ دنیا واخلم
پۀ خندا خرنګه ژړا واخلم

لېږې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لېږه سودا چې پۀ دنیا واخلم

ته چې پۀ سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نۀ دې درد مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم پۀ دود نړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پۀ شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلې
خاطره دا واخلم کۀ دا واخلم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



څومره چې نه بېږم پۀ ځوانۍ پسې نه هېرېږم
خدای نه ده نۀ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نۀ اوله تا تګ داسې کله چې راته شوې
هغه خو پوهېږم چې قدم اخلم وډرېږم
تۀ او ستا ښایست چې پۀ ما څنګه څنګه کړې شي
مۀ کوه ایله نن د هر څۀ سره جوړېږم
نۀ یمه خوشحاله ستا پۀ غم کښې خندنه مۀ شي
خدای دې بخلامۀ کړه چې لۀ تا ، مرورېږم
شان یې د کړو نۀ وی خو چې زړۀ یې شي راپورته
تا ته چې نۀ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښتۀ یې هم دا چې راته روا یې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې پۀ پلوۀ دربنکاره کېږم
تۀ کۀ پۀ یو خلۀ لۀ ما خلاصېږې نو یې واخله
تۀ به راته نۀ شې کټ ځۀ له خنده کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وو چې یې هېر کړه
پرېږده چې بې وار پۀ هر ځای کښې در یادېږم

---

یادښتونه • قند • مردان . خصوصي ګڼه ۱ ر کاڼین نمبر (ص ۹۵)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالي ستا شوه زړه يې نۀ اخلمَ
د ستا غمونه واړه زۀ اخلمَ

تا يې چې زړۀ ورېۀ ګواه هم نۀ لرم
اوس به لۀ تا نه ښکه زړۀ اخلمَ

اول سپېږغې وم ستا د مينې د اور
اوس پۀ ځان پوه شوم چې لمبه اخلمَ

پۀ وېرانه دې ځم پۀ وروستو کوم اَشنا
زۀ قدمونه چې واړۀ اخلمَ

هر هر ګړی دو ته پۀ خاطر دی د غم
پۀ اسوېلو کښې چې سيالۀ اخلمَ

د متن ليکنه کښې د التفظ (مخصوص) د سه چې صحيح نۀ دے .



لکه کلي چې پۀ اغزو کښې وينم
داسې يې زړۀ ستا پۀ ښو کښې وينم

رخسار دې وينم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې پۀ تيارو کښې وينم

ګلفامه څو کۀ لرې اوسې لۀ مـا
زۀ دې د نم پۀ پلوشو کښې وينم

د ستا ليدل تېر شو ے خوب وۀ اَشنا
بيا به دا خوب پۀ کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړګې باغچې پۀ ورو
تلۀ د اَشنا دې پۀ ختو کښې وينم

زما خـاطر خـاطر دې اوږد کښې وسو
اوس يې لمبې پۀ اسوېلو کښې وينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غرې تېروم

پهٔ ما زهیر مهٔ شې خو مخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوې چې غم نهٔ لرې
زهٔ لیونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

اشنا کهٔ تا ته پهٔ کتو پوره شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوره شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ راددې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوره شوم

یا د ساقي د میو خوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوره شوم

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته راسې دې ورځ کرم چې بېدار نهٔ شوم
بغیر له تا ستا د غمونو نه وزګار نهٔ شوم

پهٔ دې دنیا کښې به غیر ستا له نورو نه څهٔ خوندونه وي
لېونم غوندې ګرځېږم خو یو ځل پهٔ کښې خمار نهٔ شوم

ستا پهٔ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې وېزار نهٔ شوم

تهٔ چې راکوې زهٔ به هغه وخت پهٔ طمع ومه
یو ځل هم موړ د ستا د خولې پهٔ ښهٔ ګفتار نهٔ شوم

هغه وعده چې تا پهٔ سترګو کښې وه ماته کړې
دا زهٔ خاطر دې د وعدې پهٔ انتظار نهٔ شوم



نور پهٔ زړهٔ مې نهٔ ځائیږي چې څهٔ وایم
دا نه بیا مسرورېږي چې څهٔ وایم

کهٔ څهٔ نهٔ وایمه هم راپورې کګی
پهٔ دې هم راته قهرېږي چې څهٔ وایم

د هرچا پهٔ لوری څمه داسې وخت دے
بیا مې وخت کله تېرېږي چې څهٔ وایم

کهٔ خبره نهٔ وی ما نه خبر دے خبر دے
بیا خپل حسن نه خبرېږي چې څهٔ وایم

وېره بنده پهٔ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږي چې څهٔ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به ګرځې مسې بنګلے زه به مړ یم
چې یې اوس وګے لږ لیدلے زه به مړ یم
جنازه یې چې له کوره ګډه ته درومې
ته به نه وې راوتلے زه به مړ یم
خدای د پاره په مزار یې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زه به مړ یم
زه به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به ټول کلے زه به مړ یم
وچې ترخې به په ما وی با زرغونې
دې مزار به مې مُبتلے زه به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له ته را درومې
خبر خبیږ خوږې لیدلے زه به مړ یم
خبرې خاورې به په ما باندې انبار وی
هر سړے به درومی غلے زه به مړ یم

د کاکُل په خته بند د مخ کتاب کړه
ما خاطر په خدای سپارلے زه به مړ یم



بنګلی مخ ته دې د موم په شان اوبهٔ یم
لکه کانړے مسې کلک ورته په زړهٔ یم

چې په کومه لاره لاړ شې زه یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خوړ په هر یو پلهٔ یم

زه په کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د سترګو اخستے شمه نو ښهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
په دې خوب پسې لا هغسې وُدهٔ یم

لږ د ځان سره په زړهٔ کښې فکر وکړه
زه خاطر دې چرې یو ځلې په زړهٔ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

کوره چې رنګ مې سوې سکروټ نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راشه د سترګو نه مې مهٔ درېږه
سرې پهٔ ژړا دې غځهٔ مېخور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې څهٔ
سوے پهٔ اور یم سوے لور نهٔ یم

ستم کړه تهٔ منع کړې یې چا
زهٔ لا خاطر مرے د ګور نهٔ یم

○



○

سپړلیه زهٔ دې پهٔ غُنچو کښې نهٔ یم
عادت پهٔ داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کړه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پهٔ تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار پهٔ خاطر
بې د ګلونو پهٔ ازغو کښې نهٔ یم [1]

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې پهٔ درتلو کښې نهٔ یم

○

[1] [illegible] دیوان کښې دا بیت د غزل [illegible] بیت دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل پهٔ منزلونو کښې یم
د دیدو پهٔ امیدونو کښې یم

نهٔ مې دنیا نهٔ مې عقبا ککېږی
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشی اشنا
کهٔ د بهار پهٔ سرو ګلونو کښې یم

زما پهٔ زړهٔ کښې خو هم ته یې اشنا
دا نهٔ خاطر کهٔ د چا زړونو کښې یم

○



○

یاره ستا مینې پهٔ اور سېزلے یم
دوږ به نشمه پهٔ زړهٔ داغلے یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندې یم
دې دې نهٔ پهٔ تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر پهٔ زنګون پهٔ غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې لهٔ در دې بېنوا شړلے یم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی چې لهٔ خاورو[1]
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی چې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې ورُدهٔ دی چې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو کلک شو
دیوال کړے چا وبهٔ دی چې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګین غزل ته حېرانیږم
پهٔ دې خر خېږ کښې څهٔ دی چې لهٔ خاورو

1 ستر لیکنه او دیوان کښې د (لهٔ) پهٔ ځاې مصرعه (د) لیکلې شوې چې صحیح نهٔ دے
2 ستر لیکنه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده:
دیوال کړے چې اوبهٔ دے چا لهٔ خاورو.



خرد به نهٔ تږهېږمه پهٔ سرو سترګو
ته رو تمه ستا پهٔ لېونو سترګو

مهٔ تورووه تورې بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له چې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګورې چا ته پهٔ معصوم سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق وېر عزت کړي د نهرو سترګو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نور به څهٔ یوسې زما پهٔ توروسترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا پهٔ توروسترګو

کهٔ پروا کړمه څو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کړی پروا د توروسترګو

وړې سترګې مې د سترګو پهٔ هر لورشي
کړم دې داسې وارخطا پهٔ توروسترګو

کړی مې سترګې ستا د سترګو قدر ووړه
ور به یې نهٔ کړم د دنیا پهٔ توروسترګو

نهٔ خاطر دې دګلو سلائی وے
ښکلولے دې اشنا پهٔ توروسترګو


http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

بیا دې سحې نهٔ کړم پهٔ هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په توروسترګو شک د زړهٔ
بس څو زړهٔ مې غل دے ستا دغلوسترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوګیروسره
یو مې پل خوبونه ستا ویدوسترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چار ښا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردوسترګو
ستا دې اوښدو ډیرځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دوسترګو
خبر دے دا زما سترګې څو بدې شوې
تهٔ څو راته ګوره په دې ښو سترګو

څومره تږېنه وُښې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو



http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې او تر لیدلو

درېغه چې شپه وه د وصال خو تر قصته پورې
زه په دیدن نه مړېدم چې مې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو حمله راوړه کړمه زه
سر ماښام مې نمر اوچت د غره په سر لیدلو[1]
زه یې لا هېڅ په سرو لبانو باندې نه یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځای قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدایۍ وختونه
له غمه ډک مې تر هغې پورې اختر لیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي رېبار چې مې جانان دې مسرور لیدلو

[1] منل شوي دیوان کښې چې د دغه لوړ معنی مصرع داسې ده:
د ماښام سر وسته نمر مې اوچت د غره په سر لیدلو

شوق مې ستا د ډېرو بېخودونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوبن مې اننګې شول د ښو ازغي مې مېر شول
نېږه را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
ډېرې مې کړې ټینګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زه تر ښه لوګی شم چې به څه سوې ترې راشي
نېږه را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زه په انتظار یم
ستورے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړه پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د ځوانۍ هسې د وختونو سره لاړلو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شوه د عشق د کړنګونو په سرونو
په توم دلبرې وطنونو په سرونو

د رنګه چې د ستا د اننکو خوله هم نۀ وې
پرخې نه چې کوم د ګلونو په سرونو
ستړې به زما شی اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداوبونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپېر ستړګې حق حیران شی
دود چې کړه دلبرو محلونو په سرونو
هسې هم ایرې یمه د باد سره الوځم
سکون مې غلۀ نیسی د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نۀ کړم غم د یاره کۀ څوک وریشی
خاورې دې پرتې وی د تېغونو په سرونو

ښکلی به سر ټیټ کړی یاره ستا په تصور کښې
وېر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړۀ ذره ذره یُو
کۀ دا دې خوښه نۀ ده چې هرچا ته دې ښکاره یُو

یو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې ورېږدے
څو به په کښې وایو چې مدام دې در سره یُو

تۀ زما په سری ځ شمعې زۀ ستا په انتظار کښې
هر کله چې وی نو مړۀ به دواړه په یو شپه یُو

نۀ به کلۀ وایو کۀ دنیا په بله واوړی
ګرځې دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یُو

یوځ به مې سوګند شی په کښې ورځو د یار
اوس به دواړه څۀ رقیبه تورې په اوږه یُو

راشه مرور چې مې شک لۀ خاطر وځی
وایو به رښتیا چې دا په څۀ سره خفه یُو

[illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څکه مې نن په سوزېدو تېر کړو
چې مې پروڼ په مستېدو تېر کړو

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړو

دلسوزۍ مه ګڼه تېوس همدمه
ژړکي مې عمر په لمبو تېر کړو

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وۀ
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړو

پار بیا د چا له تورو زلفو نه ګوم
یوځلې مرګ راباندې دو تېر کړو

لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړو

زۀ چې سپېلی ته ورخېر نۀ یمه
ما د ریدن په رنګینو تېر کړو

ژوندۀ د عشق لمبې ژورې غځۀ دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړو

اشنا د ستا د بنګلی مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

بنه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې نښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړۀ زخمونه مې بیا هله شماره
کۀ د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زۀ لا خفۀ نۀ وایم چې داغ مې په زړۀ
تۀ لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زۀ له تا نه چا وېړې یم
وار به دې راشي کۀ لږ وار دې وکړو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا پهٔ ورو ځوکېدو محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پهٔ عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خواب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خوځله راشي
گل گل چې نظر وکړم گلاب ته

يو ذره يې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر يوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور يادونه مې پهٔ ياد کښې راته هېر شول
يو دوه نهٔ راځي چې کښېنم حساب ته

واړې زړهٔ به زما هم داسې تنگ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ يمه حيران د دنيا سترگو ته
گوره کتے نهٔ شي د چا سترگو ته
ستا د ښکلو سترگو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترگو بلا سترگو ته
راشه اهو چشمه ليونے شومه
سترگې مې صحرا دي د ستا سترگو ته
ستا چې خندنو سترگو ته گورمه
راځي شي لهٔ واره ژړا سترگو ته
راخو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
خله مې ناويل کړې اشنا سترگو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بيا را نغله هغه ژړا سترگو ته
تا جوړې ارادې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنگينه فضا سترگو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړو
بيا به نهٔ راځي سبا سترگو ته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چې رقیب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
ته چې دا غلي غلي ګورې دا دغل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې دچل نښه ده

ته چې تپوس را نه مدام کوې چې څه لټوې؟
زه چې دا لاس په سینه ږدم دا یې اول نښه ده

خاطره تا چې بېګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخري ستا د اجل نښه ده



خوا ږه تراخه شي د خوږو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

ته را نه هېر یې خدایه هر څه په دولت کومه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژړو او په زړو کښې سره خاندو اشنا
مه کړه ګیلې د زړه بدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مینه کښې چې زه او ته پرې نه پوهېږو
د صفو درځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو باندې اورلګو
د ستا د صفو انګر هسې نامه پاتې ده

سبا به وائې چې د خدای په خاطر راشه لږه
په ما خاطره کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار ې هسې ستړې تېره شپه کړه[۱]
خندل را پرېږي ستوري چې سپوږمۍ ته را تکيله کړه

ور ته سر په زنګانه وم د وصال ټګۍ ته غلے
ما به کله بنه کړه چې بېلتون را ته قصه کړه

شو په منډه نظر ستړے چې هر ستوري به چلبه کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوري به مزه کړه

ور سره به يې زړه وچوي که شپه وچوي د خاطر نه
په ترا ترا فُده شي خو وعده يې ستا پوره کړه

۱ صحيح مصرع داسې په کار ده: خندېدل د اېرېږي ستوري چې سپوږمۍ ته را تکيله کړه



لب د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ په لېمو کېږې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونهٔ چوې
لکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصيحت مهٔ کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ما پهٔ شوګیر تا پهٔ خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بېګا راغلې شمع ده یه اشنا
ما ټوله شپه پهٔ ډډېدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوي نه ده سوزېدلې
هسې لمبه دې پهٔ ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې پهٔ سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه پهٔ خیر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څوبه پټې سترګې زهٔ د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سودې کله کېږي د ساقي پهٔ پیمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین دا اوښکو پهٔ سیلاب کښې
بس زړه شه راته وایه د خندا خبرې کړه
پهٔ خود نهٔ یم تپوس راځنې مهٔ کوه ددې
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونهٔ کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو تربې زما له خلې وباسه

یا مې د زړهٔ راز و نه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوه تنګه دنیا که شوه درته
زر مې د ژوند له لارې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سراې نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
ستړګې د ستړګو نه یې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ څې خوما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تږے نهٔ شی
راشه د اوښکو مې باران یوسه

تهٔ چې مسکے شوې زما زړهٔ ته بنکلیه
دا د غمونو ړک جهان یوسه

خوږه زر راشه دا آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روڼیه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

لکه ګلې لهٔ مسېدو ړنګه شه
بانړهٔ دابنغ کړه لهٔ اغزو ډکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته نږغه نهٔ شوه
زما ښکلی لهٔ زولنو ډکه شه

کهٔ یې هر څو درسره فندیولې
خو زما مینې لهٔ پښتو ډکه شه

چې یې ژوندون لهٔ رنګینونه ډک شي
بیا پهٔ غصه کښې لهٔ نشو ډکه شه

بس پښېماني لهٔ زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه لهٔ اشارو ډکه شه

چې تا يې هم ګرېوان ته ښېرې ورې
هم ستا کوڅه يې لهٔ تېرتو ډکه شه

ښهٔ دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیانهٔ وائي
فضا زما لهٔ اسوېلو ډکه شه

بدخواه چې لاس پهٔ سینه کښېږدی در ته
دخېبر څانګې لهٔ اغزو ډکه شه

خاطره یار دې پهٔ خېبر کښې اوسی
تهوله دره لهٔ سپېلنو ډکه شه

ستا لاسپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوږند کا
اے اشنا یا اپرېدے یا پښتورے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس دګل څنې تهٔ لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا ازغے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ډیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس ټول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لهٔ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصویر یې یوه خېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

○

ترخو ته مې نن ډېرهٔ کېږي ګله ګله
په خوږو سړے مې کېږي ګله ګله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې ښهٔ کېږي ګله ګله

چې اشنا دې چا نه ورک شي مومندے نشي
پسې ځان هسې ورکېږي ګله ګله

ښکاري یار سره نهٔ دے اے خاطره
په لمو کښې چې اوسېږي ګله ګله

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د ښکلي مخ شمع چې مې وه شوله
څوک به په محفل کښې تور ده شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس د سے نوره نه ده کښې چې نېږه شوله

ډېرې وعدې ښې وې لېږې لنډې وې
اوس دې هر يو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله



بيا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړې دو مره غم خو ديواني ده درومه درومه

اوس ته ايله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بيا راته ګرانېږې آساني ده درومه درومه

وې يې چې بازار مې د ښاپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده درومه درومه

نۀ او ته خاطره نور پۀ ځنګه سره خوابۀ يُو
مينه خو هم دا پښيماني ده درومه درومه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه د کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې په طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درنږدې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم نور کهٔ درنږدې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا نهٔ وې
پوه دې نهٔ د مکر په وعدې شرمه



کله چې په فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس د درسره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ په تماشا شمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کم چې ستا د زلفو په سوداشمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه په طمع د سبا شمه

وړې چې غریبي نیولی راکتلی دی
لره به خاطر ته په خندا شمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا ربې خاوره شرم د بیښو خښې و تلے یمه
اشنا پهٔ تا پسې لهٔ تلو خښې و تلے یمه

د آشنا مخه نور مې سرے ټیټ وے لهٔ شي
نهٔ خو د اور او د اوبو خښې و تلے یمه

پهٔ بنده ښېرهٔ به دې نهٔ لښ ووهي ناز بده مه اشنا
نرهٔ مې اوس پوه دے د ښېرو خښې و تلے یمه

تا خو به نور راته خندلې وې چې داغهٔ و شي
کهٔ پهٔ ټټر دې د کو غو خښې و تلے یمه

دغه داغونه مې دي بس دو مره خاطر مې و شي
نور د کړلو د ګلو خښې و تلے یمه



تو به خټګه تېرېږې پهٔ هوښیار باندې وختونه
نا پوهٔ هسې تېر کړل پهٔ قرار باندې وختونه

هیڅ چرې هم سخیان خو د سبا غمونه نهٔ کا
لهٔ شومانو نه تېرېږي پهٔ خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده لهٔ انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سم کړه پهٔ اقرار باندې وختونه
نهٔ دے هسې کرم چې څوک پهٔ غم کښې درو ند ښکاریږي
پهٔ هر څه باندې تېر شي پهٔ خپل وار باندې وختونه
ګوره د هغو پهٔ نهو کښې نوره سودا نهٔ وکړ
تېر چې شي د ښکلیو پهٔ بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږې وخت پهٔ روغ او پهٔ بیمار
و در ېږي نه و در ېږي پهٔ بیمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کرم خټګه مغ مې داسې تور دے
خبر نهٔ یې کړل تېر مې پهٔ انکار باندې وختونه

ما خټګه به لټون کړے د دنیا لهٔ غم نه خلاص یم
خاطر ما ښکلي تېر کړل پهٔ خپل یار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

که مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وي لېونو ته مُدام
زړګیه ته یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې څومره ستا غمونه دي وړي
پړانه مې تیول په زړګي زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وګڼه.



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړهٔ مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې رپېدلې نهٔ وې
په زړهٔ دې بله څهٔ راتله ماته شوه
نور مې ساقي څهٔ جُرم نهٔ دے کړے
تشه لهٔ لاسه مې پياله ماته شوه
کهٔ بهٔ عوض کښې یې هر څهٔ غواړې تهٔ
دا مې په برخه رسېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جامونو ته ځي
ما بنام څوک نهٔ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو توبې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور د انېږه چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې بې وعدې
دا دې وي دړ پاتې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تاشېدا کېدم
په سترګو ماله ډار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم [1]
د ګوډ مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

[1] د دیوان او منزل رنګ کښې مصرع داسې ده ، هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته خو وایه زه به خندا کړم — زړګیه لېونیه
خندا به کړم او خندا به نه کړم — زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادی پرېږده ، ما خو پرېښوده دلته خندا دي
په صحرا چې ګرځېده کړم — زړګیه لېونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانه ستا په لوړه وروګي
زه چې کوم طرف کاږه کړم — زړګیه لېونیه

زه خاطر دړ ته حیران یم چې په خندا باندې راوینې شرې
چې په خندا دې اوس وړه کړم — زړګیه لېونیه

[1] په منزل رنګ او دیوان کښې (وږه کړه) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېده
په ما دې یک تنها که په هر لور ولګېده

چې لرې در نن دې شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شور ولګېده
څېګر مې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوو فریادونو تنګ تکور ولګېده
زړګیه امید لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس یې زور ولګېده
سپین مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ورېځو غوندې خور ولګېده

خاطره خدای خیر که بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لرګي دي د خاطر داسې پلو
رقیب وې ما زیګر شه په تناور ولګېده

۱ـ منزل تنها او دیوان خاطر کښې داسې ده: څه خاطره خدای ګویدن وکړې دیار
۲ـ منزل تنها او دیوان خاطر کښې "تنور" لیکلی شوې ده، چې معنیٰ بدلوي او قافیه غلطوي



لوے دریاب د مینې نه شي په واړه زړه
شو مه یاره بیا د ستا غوندې په نه زړه

چې په خله ګوري یوه او په زړه بله
د هغه سره به مینه کړې په څه زړه

سوی د ننګ ته مې لپ وکوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو یه
د هر ستوري سره پورته مې خاته زړه

بیا یې خوب واړه تهډیونه او هیبت شي
د هجران چغې چې وشي په ودّه زړه

یو غم نه دے چې یې وکړې اے خاطره
د هر غم نه دې کوه یې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې هم بېداره شامدام
را دروي خوشحالي دې د حبیب سره راځي

خوږې په تندي یې د ازل لیکلې نه وې
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندېږي او ګډېږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغېږي په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

له متن لیدنه او دیوان خاطر کښې الفاظ هم ، نشته دې مصرعه یې وزن نه اوړي سمون کړی

لہ مطرېچي ، ترکیب مصرع یې معنی کړی



عکس د ستا د ما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره چې بېلتون په یو ګذار نه وځي

داستا کوڅې له زه د دروغ خان په خیال نه د ځه
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع د دیه راشه نور دغه ضدونه پرېږده
چې په مئین دې هره شپه د انتظار نه وځي

دستا د عشق په سمندر کښې چې ډوبند ووبېږي
چې په رښتیا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکارې د ستا د ځوانۍ او بې د شو بهار نه وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتے در ته لاهٔ وهره هجره نهٔ شم
د ستا سترګې چې کوځې د زړهٔ نه وځي
خدای دې هغه وخت را نهٔ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړهٔ نه وځي
کهٔ د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
دې وېل کهٔ مې جرګې د زړهٔ نه وځي
موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښې نېزې د زړهٔ نه وځي
جمع زړهٔ له اشنا چې زهٔ د ستا یم
چې ته زلفې مې خورې د زړهٔ نه وځي
د مخ لرې کړه پلو زهٔ دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړهٔ نه وځي
ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړهٔ نه وځي



زړګیه تا وې چې دردونه څهٔ دي
دا په ګوګل کښې دې ترږونه څهٔ دي
زړهٔ په ښو مې وله خوږ یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څهٔ دي
بس خبر کهٔ مخ دے نو ګلفامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څهٔ دي
نهٔ ده اسانه اشیانه مې د زړهٔ
لا د ستم دې تندرونه څهٔ دي
د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګوره پرندو ته تیندکونه څهٔ دي
کهٔ مې زړې کا نور نو لا به ښهٔ شي
ستا په فضا لا وسعتونه څهٔ دي
چې مرور وې یو ساعت یې ګوره
چې وي پښلا نو بیا کلونه څهٔ دي
چې مرور یې پټېدے خو نهٔ شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څهٔ دي
دا په خاطر ګلفامه ستا د شو نهو
وی په خاطر دې پرهرونه څهٔ دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نۀ شې په بیا کښې خۀ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې خۀ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده دوستا
یاره د ستا په دې خندا کښې خۀ دی

شمعې د ټن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وي په سبا کښې خۀ دی

ژړه مې چې ستړې په تورپوڅ کړل
ګله دا ستا په دې ګډا کښې خۀ دی

خاطره ته چې ما ته نۀ شې کتې
لږ ده مې پوه کړه چې په ما کښې خۀ دی

ګله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۀ راغلے
دا ټولې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زۀ خاطر درنه تپوس کومه
د بېلتانۀ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا یې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړهٔ کهٔ تهٔ ځې نهٔ لېونے خونړهٔ يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

پهٔ خوږو زلفو کښې راګورې په چل
پهٔ دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

پهٔ کومو سترګو به بيا بيا درځمه
پهٔ اشارو کښې دې تېګۍ پټې دي

خاندي چې جوړې شول د زړهٔ زخمونه
ايله پهٔ وينو يې خوږګي پټې دي

څهٔ شو پهٔ خلهٔ چې دې رخصت راکړو
ستا پهٔ نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې پهٔ کښې څهٔ بلا مستۍ پټې دي

ستا لهٔ سينګاره مې ښوانې شه لوټکے
ډېرې پهٔ خاورو کښې ښوانې پټې دي

د ستا پهٔ خيال زما خاطر شو ايرې
خو د اُميد پهٔ کښې سپرغۍ پټې دي

زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نهٔ وينمه سترګې کهٔ هر چرته سترګې دي

لهٔ هره دره ورو تلې سترګې مې آشنا
کهٔ وږې دي کهٔ تږې خو دې در ته سترګې دي
نهٔ تل را ته مرسېږه پهٔ دې عمر مهٔ شه جوړ
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي
د مينې سمندر ته سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې لهٔ تا کله بهر ته سترګې دي
پهٔ اوښکو مې کړې ستړه وړه ونه مې د عشق
کهٔ ګل يې د مخ رژي خو ثمر ته سترګې دي
را وهٔ چې خبرې بنده وه پهٔ وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلي دې سحر ته سترګې دي

خاطره کهٔ څو غواړې زړهٔ لهٔ تا د يار ديدن
نهٔ نهٔ شم ور کتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو څله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې د دنیاشي چې ته یاد شې
بې تا تنګه لا کوګله دنیا ښکاري

بې لهٔ مانه هسې ګله صحرا ښکاري
بې لهٔ تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې پهٔ هجر و وصال نه پهٔ کښې پوهیږم
داوستا ده کهٔ مې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نهٔ کړو خاطره
شکنکه خپره او بې ګله دنیا ښکاري



زړهٔ مې کهٔ هر څو رانه هر څهٔ غواړي
هېڅ نهٔ دے خبر چې هر څهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ تهٔ رانه ښهٔ واوره
مخه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړي
تل به بې پروا وي کړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر څخه دې خلاص کړمه
نور دې لا ښايست راځني څهٔ غواړي
هر سپے د ستا د دیدن وږ نهٔ دے
راخو هم زړهٔ غواړي هم لېمهٔ غواړي
خبر نے کهٔ زهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم پهٔ کښې وي چې څوک یې ښهٔ غواړي

خلق پرې تېر شوي لهٔ سرونو نه
ځلهٔ ورنه خاطر پهٔ تشه ځلهٔ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژني[1]
نور به بد کا چې پهٔ دې منځ کښې ځانېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے بېړې مهٔ کړه
مئين زړهٔ چې ستا لهٔ مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وي پروا نشته
د ګلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائې خفه شوې؟
زړهٔ مې بنهٔ شي په ګوګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هېبت ستا د راتلو کړم
که پانه چې په ونه کښې رپېږي

1 پوهېږي



ما وې نن به چې زړهٔ وچوې خو دردونه دې تېرېږي
پرهېږ ده خهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دې تېرېږي

جوړې تا اراده کړې د راتلو زما په لور دی
نن چې سترګو ته د وړاندې مشالونه دې تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دې تېرېږي

ستا د حسن په بهار کښې یاره نورې رنګينې شته
د دهر[1] په خاطر باندې غمونه دې تېرېږي

1 منتر لیند اړه دیوان کښې دالفظ نشته چې مصرع بې له معنی کړې ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څهٔ چې پرې پهٔ ما زما د يار سره جوړېږي
خبر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړېږي

کله پهٔ يو رنګ شي بيا سل ځل پهٔ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړهٔ څنګه پهٔ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړېږي

څهٔ پهٔ خاطر کېږي نن د ښکليو پهٔ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارونو مې داغونه نهٔ جوړېږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړېږي

يو ځلې يې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
غم مغشې زما هغه فکرونه نهٔ جوړېږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې د ګډ زړهٔ پهٔ کښې برجونه نهٔ جوړېږي
اے زړهٔ تهٔ راته وائې چې يار راشي څهٔ به کړو
لاڅو به څنې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ خو يې اشنا لا د چغوانه لېږلے وم
د عمر لېوانو ته زنځيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ تا ته پهٔ قدم کښې او تهٔ ما ته ويښ ولاړه
زما او ستا پهٔ منځ کښې پېغورونه نهٔ جوړېږي

خاطره يو ورځ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سبا وران
چې ټوټې کوې غمونه هغه زړونه نهٔ جوړېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نور به ایله څه دلبرونه پاتې کیږي
ګوره چې یو ګرد دې یې د پښو نه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا دستا د تلو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پېغې مې د زړه د لمن ورڅېرېدې لاړې
غم دې په کښې ډېر شو د نیو نه پاتې کیږي

نه بلېږه څه مې اور د مغ دې. دا مې زړه وه
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږي

تا چې په کږو وږو د عشق بوتلم زړه کیږه
څکه سې لاړې د پرندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سړی
څکه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په ګوډی بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږي[1]

بیا راغلله شپه او ځلند ستوری یار را نغې
بیا به مې خاطر ښه د خوبو نه پاتې کیږي

○

[1] د دیوان کټو مصرع داسې ده: خاورې دې بیا ځکه چې د پښو نه پاتې کیږي

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ستړګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې کړدونه وارخطا شي
خو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
زهٔ درته له داره په محفل کښې کښېنم نه شم
ستړګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې يې ووينمه زلفې تار په تار
بس خو يو ګرېوان ته يې لاسونه وارخطا شي
دومره ای زړګيه ! ځان ته مهٔ ښکلوه ښکلي
وبه چوې له واره کهٔ دردونه وارخطا شي
غلهٔ سره د مينې په محفل کښې چې يو ځای شي
زړونه وارخطا شي ، چې رنګونه وارخطا شي
مل يې کړه د زړهٔ يې کهٔ په خُلهٔ نهٔ بيانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
څکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

مياشتنۍ، ژوندۍ، پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ع

پهٔ اَرمان د نادانۍ شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوب يې ورک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ اَرمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

پهٔ توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زوړ شي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لېونې پهٔ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښيارو ځنګدن پهٔ يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لښ مېلمه دے
تا به وکړم ده وار وکړه کهٔ دې وار شي

تهٔ دې خپلې سترګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هېڅ نهٔ ده
لکه درياب کښې چې باران ورک شي

هومره يې سود په ليونتوب نهٔ کيږي
چې په منګل کښې يې ګرېوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر پهٔ کښې چشمان ورک شي

○



○

چې يې روڼ دے د ليمو په پېمانو شي
سو دې کله بيا د لب پهٔ بهانو شي

څو چې خداى را کړے نهٔ وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل پهٔ بارانو شي
کهٔ د ستا پهٔ نوم بدنام يم پروا نشته
ليونۍ غونډه تل پهٔ ليونو شي
زهٔ د ستا ليونو سترګو نه ځار نهٔ کړم
کهٔ خويونه دې د سترګو ليونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپېلنې د وړاند بنو شي[1]

چې د زړهٔ کور ته دې راشي پروا مه کړه[2]
اے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

---

[1] که دا دواړه شعرونه منزل له نه کښې نشته

[2] دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د زړهٔ کور دلبر را غله ودې سېزي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې ګونځې راتاو شي
زما د زړهٔ غوټې پسې راتاو شي

پهٔ څېره پره لوپټه کښې تـاو شي
لکه وږانه بړبوکه را تـاو شي

نهٔ به مې بیا ګرځي لېونے د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ را تاو شي

پهٔ زړه بوږې خو به وا نهٔ وېم لهٔ تـا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ څولنه را تاو شي



وړاندې به مې دا وې چې کا تهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوره شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بڼو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وم هلهٔ داسې جدائۍ خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وې مې کړو تپوس چې راځه څهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ يې پرېږدي دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ به شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل يې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

ښ خو مه راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چې بلېږي د محفل د پاره خاندي
زړه کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفا کانې، ستمونه کړه غمونه وک
زړګي د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي



راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نه شي
چرته چې په موږ کښې د پردو خبرې نه شي

ورېږه شپوله راشه چې له يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نه شي

وايمه له ځان سره چې دا به ورته وايمه
راچې شي آشنا په څو وصلو خبرې نه شي

زړه او ته چې ووينو له ورايه سره پوه شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړه خبرې نه شي

ياره ستا د هجر اوږدو شپو شکوې کړې يم
ګوره چې يې اوس په اسوېلو خبرې نه شي

خدای خبر خاطره زه بيا چرته ته بيا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نه شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دا ستا په سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقیبه یار کهٔ مې په غلطهٔ پاتې شي

سترې مزدور سحر وختي پاڅېږي
پهٔ شوګیرو مئین وعدهٔ پاتې شي

یو ځلي نیغ پهٔ دې لار تېر شه اشنا
چې دې کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا پهٔ خیال کښې څهٔ ښکاریه
دغه ارمان به مې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستایه ډېر د یار تراخهٔ خاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خوږهٔ پاتې شي



زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله یهٔ تهولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکي مې بهیږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان رتلے مخ دے

څهٔ وشو تا کهٔ دیدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غرېبې
چې په کوم لورې زه ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې، تغیروې چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څه په مخکښې مخکښې ګیږې
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو وتو خاطره
خپل غزل مخې ته وینسه دا یار دے

---

میاشتنۍ غنچه پېښور

اګست ۱۹۶۰ء



خوږ خوږو د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې دې
ښه دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مه کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نه کړې
ورېږې دې د چا په دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نیوه
ما ته څه د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د امید د زړګي شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا درته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې که نن نه وې سباله به دې خوښه شي
ډېر ې درته کړے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلې وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې له غمه يې زړۀ مې پۀ درد اخته دے

د هجران د لاسه شپه و روځ ژړېږم
ځکه داسې چې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

يا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
يا خو دے ورېږ پۀ لېمو نبې نوعدد دے

اوس يې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې ليدلے يې د يار بنګلے بشر دے

تور بانړۀ د يار د غشي پۀ مثال دي
چې ويشتلے يې زما د زړګي سر دے

دريغه زۀ خاطر خو پوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے

○



○

ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورو دستو بۀ ته پوه شې څۀ وايې خبر دے

دې وې زړۀ کۀ څېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر يو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زۀ يمه هوسۍ پۀ مهر روږده
ما وې زړۀ زما د لوړو غرونو شېر دے

دې وې بيا ته مخ بنکاره کړه کۀ پښتون يې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت يم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کېنه غم يې ډېر دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا مې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان مې د لوګو د اسویلو نه ړک دے

خوښه مې ستا پهٔ بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې یاره د ازغو نه ړک دے

د ستا نصیب شه خوشحالۍ د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ړک دے

نمر مخې مخ ته مې لهٔ ورایه نا خبر کښتلې
نن راته ځکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

دا شه ګلونه ګواهان دی پهٔ صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خوګو ښهٔ دے هر خوګهٔ د تیارو نه ړک دے

زړهٔ مې یوه د لیونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډیرو تماشو نه ړک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تیرې هیرې قصې
زما زړګے خو مختنے لا د ګیلو نه ړک دے

زما خاطر پې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
د مغ کتاب دې راله راوړه د قیصو نه ړک دے



ټک تور سوبے د ستا سوبے وړ بل دے
چې دې اور د بنګلی مخ ترې لاندې بل دے

چې څوڅُم پهٔ مخکښې لا منزل زیاتیږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

څې مې شک پهٔ ګومه لار دے سودائی شوم
نو زړ مې هیڅ مومندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ خوشدل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څومره ورېږي په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شي وائي کم دے

زهٔ چې مست پرېشان او سرګردان یم
مر یو غم یې لکه زُلفې پیچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
په کوم ځای باندې یې ایښې چې قدم دے
ټول عالم یې وهٔ صفت د سخاوت کا
ګیله څهٔ کړم چې د اخپل نصیب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مست شومه په خندل یې
خلقه ما او په جانان کښې کوم یو کم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندی
نو وچ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مهٔ د دومره خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا په انتظار کښې ماته کال څهٔ دے
دومره لا مانده نهٔ یم ستا خیال څهٔ دے

سوزی هم هغه چې پرې بلېږي اور
خاندہ لے اشنا تاته ذغال څهٔ دے

تا که په شاله کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې هر یو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبین خال څهٔ دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مهٔ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


چې نړه مې ستا په تور دے په بل تور مې پېرزو نه دے
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور مې پېرزو نه دے

اے مجبورو چې مې ورانه نه کړې دا د زړګي خونه
ارمان په کښې د يار کړمه په کور مې پېرزو نه دے

دا نه چې هر بنا پست باندې شپه دا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزى خو په اور مې پېرزو نه دے

په غير ستا د محفل ځنې بې نه شي ځه ګذران
در دروی به خاطر خو په پېغور مې پېرزو نه دے

چې لې نظر مې د بصر پاتې دے
چو ړې مې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپين مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مينې دلبر ځنې زړه
لا مې په مينه کښې څيګر پاتې دے
تېر دې د شپې وکړه که وکړې يقين
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تېر نه شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن ګنڼلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو سترګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د ربار په خُله رخصت ځکه شم
د يار خاطره چې خبر پاتې دے

---

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

پهٔ لندو پلوونو به يې ځنګه څـمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

تن دې ونهٔ وې پهٔ وعدهٔ کښې راته
صره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړهٔ پهٔ سولو کښې مسکې وې ماليدې

پروت چې څهٔ پرواه ستا پهٔ ګذاب نهٔ وه صنم
زما پهٔ زړهٔ ويشتلو کښې مسکې وې ماليدې

شاهد چې وه د دياره حيرانتيا مې هغه وخت
اڅين ته پهٔ کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه پهٔ دا کهٔ بنهٔ يې ستا لهٔ سيې کړم
رقيب ته پهٔ وئيلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې انګې نې سرهٔ ګلونه
سحر چې ته پهٔ کلو کښې مسکې وې ما ليدى

خبرې پهٔ غصه کښې کېنې هم د چا خاطره
اشنا چې پهٔ کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا ې نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېدې
دا وصل کهٔ هجران دهٔ چې کيلې را يادېدې

بس دهٔ ې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نور څهٔ ورڅ
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را يادېدې
منم چې فراقجن به نور سبا را يادېدې
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېدې
کهٔ هرڅو شرې ، نن ياد له چې هېر دې نشم بنهٔ
پخوا ې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را يادېدې
وم دومره ليونے ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته څو به خاورې بادېدې را يادېدې
زما د زړهٔ ګې ياد شي د مخکې نظر سره
پهٔ هيڅ نهٔ هېرېدلې هم راسې را يادېدې
دا نهٔ چې اَس چشمه اوس ې غتې ستا پرزهٔ
د ستا خمارې سترګې لا وېرې را يادېدې

بېکا چې شمع رويه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل بشکلې تماشې را يادېدې

له مصرع بې معنی ده



زما د اُميدونو ورځې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېدې

اوس چرته ترېنه لاړ شم ليونے چې کړه يار
هرځاې کښې ې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخنيه اوس دې سې لارې ماته کړې تکړې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې بعې چې خاطر کړو يار ګلا
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو ښېغ ونه وې
بس کۀ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له نۀ کۀ قسمونه ورکړم
زړګیه تۀ کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوره شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
تۀ خو راته وایه په محل کښې څنګه ښکارې

شومه به په باغ کښې ته په غټو وګي خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې په ما کښې دي چې ګورمه هرچا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وي
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

اے ګله! چې ستا ښکلي د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لمبې بلې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګسه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر مې وهٔ اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګړه ښار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې کهٔ ورګورې نو اوس بیا مخ پټوي
نو کوزې مې ګرېوان ته له حیا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاته شو او په نېهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لمن راشه شمع رویه! لبې وګوره چې څهٔ شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څهٔ شو کهٔ مرې د خاطر سترګې په تا نهٔ شوې
چې ډېرې داسې وینې له دنیا نه سترګې لاړې

میا شنتوب، قند، مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ء

○

کهٔ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څهٔ کړې
کهٔ نهٔ عادت له دې بلا سره شم بیا به څهٔ کړې

درته کتلے نهٔ شم حیران یم دا اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څهٔ کړې

څو به بشپړې او دا ریتنه تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نهٔ وي دعا مخه اشنا به څهٔ کړې

چې څهٔ یې وکړل مخه یې تول وکړل په تا خاطره
دا به چې تاله په لاس راشي په اشنا به څهٔ کړې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



پېره خوشحالي به نهٔ ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوه تل چې مې يار دې بېږي

زهٔ دې يم لږکے پښتېدے نهٔ شي رانه شمي
خدايږو د دنيا نه پهٔ تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هر يو ځاې اشنا دے
اے وږيه نظره تهٔ پهٔ هېڅ هم نهٔ مړېږې

ستا به د خاطر نه وي پهٔ زړهٔ کښې څهٔ تېر شوي
دومره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږې

له = مستر ارنلډ او د ريولټ خاطر = د دوا د کابرېز کښې = تا لېکلے شوے دے = ريچې خيال سمجهه کړې



لکه مجنون غونډې ګرځم پهٔ بيابان دربسې
وايم پهٔ خُلهٔ ليلىٰ ليلىٰ څيرې ګرېوان دربسې

نهٔ شوم خبر زهٔ د وصال لهٔ خوشحالي نه چرې
لکه وحشي ګرځمه غمونو د هجران دربسې

نهٔ دې اشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پهٔ تا نهٔ ګرځم خفګان دربسې

چې تهٔ بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې تهٔ شيدا نهٔ يې تهٔ
کهٔ د کمرو مې ګذار نهٔ کړو خپل ځان دربسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې رانهٔ شي خواله زما
څېرې پهٔ لاس ګرځې خاطره رقيبان دربسې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تا کړو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بدیه
څو به کړمه داګریان په توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه ځار نهٔ کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دې ښکار زړې زما سترګې
چې یې نهٔ شي کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شي نمړنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبې راکوه د زړهٔ سره
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

دهرچا دې دیدنونه مبارک شي
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا بانډې خو نهٔ شي چې زهٔ ژاړم
ډکې ستا د در لمنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ درکوي
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې دګرمو اوښکو اوړې
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې نامې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې له ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطره به په ترخو نهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ "غنچه" ستمبر ۱۹۶۰ ع

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا راپورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مخمورې سترګې

خاطره ژاړه له هجرانه سره
په تصور کښې غړې کړې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشوي چې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نهٔ شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نهٔ شلېږي د ستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو هوڅېدل چې د ستا څُلهٔ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره څُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مينې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې مې په نړګوټي کښې ورستې شولې

سترګې د خاطر کهٔ ستا په سترګو تېرې وتلې دي
ګوره مه دا بدې کهٔ زما په حقله بنې شولې

تا به کتو غل چې رته خاطره د ورک شوي زړهٔ
نهٔ ګورې چې تا ته د اشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ايسار بېږم ولې
چې پښېمان يې تيارېږم ولې

پهٔ يو ساعت کښې مې بيا بيا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرارېږم ولې

درېغه چې مړ دې د ستم نه وهٔ
چې نهٔ مړ کېږم ازارېږم ولې

نور به دې څه وکړې بانهٔ په خاطر
ټول دې پرهار کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نه کمېږی څو را ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو رانه یادې شوې

څو ځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به کوری ستا سترګې زما سترګې
لرې دې وی خیر دے هو چې نیاتې شوی

تا چې د خاطر سره څه کړی دی
خیر دے اشنا دا ې درته پاتې شوې



ته به په زړه کښې ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکوې

منع به نه شم ستا له دره څنې
په دې دې نه یم که څه نه راکوې
څه لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
ته به لا سونه ماته بنه راکوې
داسې چل وکړه چې ټېس وردو دېږم
سبا به بنګلیه یو لمبه راکوه
دا خوشحالی به ماته څوک راکوی
چې ټول غمونه راله ته راکوې
چې پرونند او ګوړه دې کړم نو ماله به شوه
اوس څو به هر څه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کوه ته
که یو اوان راله په خله راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا ته زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې ته د چا خپله نهٔ یې

دا ته خو چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره ته څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوې لا
ته خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې



هر څو کهٔ چې د زړهٔ قرار لوله راځي
پرهېزم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا ته خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا نهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com





# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې لهٔ زړګي وُف کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شي دې پلوشې ښکلې بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېر وي که ته چې مخ راڅخې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه ښهٔ چې راته ګورې

ته زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړهٔ
زهٔ به درته ووایمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه ته چې راته ګورې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ هر څهٔ هر څهٔ وړو تمه
ګرانه اشنا دا ئې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه څنګه هېرېدمه — خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه — لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تر ټوله دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا ئې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېب غر نهٔ وو هغې صنمه — چې وی ژوندی لغړیه راشي
درته پهٔ زړهٔ کښې به ئې ساتمه — پرېږده چې مړ به پهٔ جنازه شي
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ درواېومه
ګرانه اشنا دا ئې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا داسې کیږي — پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبر نهٔ وي — لهٔ کړنګو به ئې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا ئې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وے درکتلې — اوس یې ژوندون اختیار دے
هغه چې تا ورته خندلې — نن یې د نورو خندا تور دے
زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قرار ومه
ګرانه اشنا دا ئې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

ئ دروایه ګایه د (لهٔ) پهٔ ځای (د) لیکل شوے دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړي ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل

هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډو یې خند بدو ته جوړې شوې

مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدهٔ

بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل آزاره مهٔ کړه

اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوږے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
ځي مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې ګرځېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې ځي پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته ښېغورې صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زورې صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نۀ ومه خبره زۀ، تاچې نړۀ با ئبللے دے
تا ووې ربار ته پس لۀ دې به څو راځې
خبر دے کۀ تش تورې دې پرون نړکے شړلے
خیال مې وۀ سنګار ته پس لۀ دې به څو راځې
ونبا یه څنګر راته اوس د زړګی سر راته
وایه د بنو غشو پۀ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه مې وه کړې چې کینه مې وه
ماکتل رخسار ته پس لۀ دې به څو راځې
ښکلۀ مرې در شمه پۀ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تورپک نیولے دے
یو ځلې درغلے وم وهر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لۀ دې به څو راځې
ما چې کوم ستم کړے اوس مې پۀ تاکم کړے
دا دخوانۀ ولړ پۀ ما ننن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا کړې به تل سلام دستا
پرې یې بنده دربار ته پس لۀ دې به څو راځې



ننن څوک راته مۀ وایه چې نا تر سبا
سود مې ساقي نۀ شي پۀ مینا تر سبا
وایه اشنا راته، تۀ زما تعبیر نۀ یې
وې چې تل پۀ خیال کښې مې تۀ صفه تصویر نۀ یې
بله راته بنکاري دا دنیا تر سبا
سود مې ساقي نۀ شي پۀ مینا تر سبا
راکړه ساقي داسې مئي چې شي زما اوس تا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام دلبر راکړه پۀ بیا بیا تر سبا
سود مې ساقي نۀ شي پۀ مینا تر سبا
ننن ځي دې را جمع شۀ پۀ مشیو کښې کېفونه دک
سترګو پیمانو کښې دې رنګ پۀ رنګ ستونه دی
ګلې د خاطر شه پۀ رښتیا تر سبا
سود مې ساقي نۀ شي پۀ مینا تر سبا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې گريوان دے څاڅي مې نم

مينه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
وېره له چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنگ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن گلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

دگل په چم طلب کړم صنم

ے متن کښې داد ديوان کښې مصرع داسې ده چم په چم طلب کړم صنم



چې سترگې نه وباسي، زما او ستانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيانه

زما او ستا دلته څه دی، خو يوه مينه
داخو هر چرته کېږي، چې راسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان په بيابانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنيانه

خو به په وېره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بيگا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له گريوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيانه

داړک دمينې نړونه، به دواړه يوسو
څه چې ځنگل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار گل په پوښ ه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنيانه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا له غمه، يم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيانه

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سږ نه کال ته د پښتو غمونه
لهٔ داسې ژوندنه مرګے ښهٔ دے راته ښيېنه
الله دې خير کړې

ستا د مانو فرياد و نه
هېر به مې نهٔ شي
لکه د زاني قطارونه
هېر به مې نهٔ شي
پاس پهٔ اسمان کښې جهانونو سره ځينه
الله دې خير کړې

د پښتنو فقيره ژونده
څنګه به تېر شې
تېر خو به شي پهٔ لوږه تنده
څنګه به تېر شې
پهٔ مصيبت به دې څوک سرته رسوينه
الله دې خير کړې

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې ياديږي
غم د هغوي را سره پېر شي
څوک مې ياديږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوينه
الله دې خير کړي

خاطره هغه خلق ستا يه
پهٔ خپل کتاب کښې
تل پهٔ بار بار دغسې وايه
پهٔ خپل کتاب کښې
حاجي سره نهٔ پهٔ وطن ورکړي دينه
الله دې خير کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوکیرې تولې پهٔ سباسبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو
ستا د بنا ښسته ستر ګو د یاره فکروه مانه ښکلیه یاره
ځمره لبې ې پهٔ نهګوتی باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو
دخدای د پاره بس ګراشه کهٔ مرو دې راخلاشه
ستا د راتلو پهٔ انتظار ې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو
دا تهٔ چې لاړې دبل چا شوې زما د زړهٔ ځنې جدا شوې
زما داسترې شو ګیرې دې تولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو
خاطره زه ځان ته حېرانه یمه کهٔ لېږ راګورې بس روانه یمه
د بیغلتوب ملګرې تولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

د قافیه درسته نهٔ ده



واوره صنم زړهٔ مې نهٔ شې لهٔ تانه
ویلې نهٔ شم زهٔ ځهٔ لهٔ حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بنهٔ دی پهٔ ما
زړهٔ مې د ستا د پاره واڼی چې وی دې پهٔ ما
واوره صنم

پهٔ کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
د ږ د مینې پهٔ زړهٔ باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړهٔ مې لهٔ خپله کوره تېښتی چې راشې صنم
خاطر د ږ ګران دے پهٔ ما چې پهٔ خنداشی صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پۀ تش ديدن باندې ې زړۀ مشغولېږه
څو مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لۀ هرچا پټه پټه ستا يارانه به کړمه
تاله چې در شمه زۀ، څۀ بهانه به کړمه
پۀ انتظار کښې ې لۀ ځانسره ژړېږه
څو مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نۀ کړمه
يو ساعت بې لۀ تا به پۀ نوره څۀ تېر نۀ کړمه
پۀ دې سودا ې ودۀ کېږه راويښېږه
څو مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ې کاروان د ستورو پۀ کهکشان شو سره
د سبائي د خيال خوبونو کښې ځنګېږه
څو مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

خان ته دا تول دُنيا خاطره ما وکړنه
پۀ کښې ې مخ او زُلفې بېګا سبا وکړنه
د زړۀ پۀ مينه ې پۀ سترګو کښې اوسېږه
څو مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځکه چې پرېيان د منزل ته نه کېږي (د ) دے



تۀ چې پۀ مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې
ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پۀ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پۀ محبت ې نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا لۀ اوره
لږ زما سوی زړۀ ته وګوره
جوړ پۀ معنیٰ قيمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره دا سې حېران دے
پۀ محبت کښې ستا بنديوان دے
يې کبرجنه بې زړيا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
ځې د ستر ګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره داشپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو
څهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی

راشه چې ژوند دې د کیفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
څوک به کلی، څوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی

اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جوړنه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ځايونه به د ګل جوړوي
سره سره غنچې به منګل جوړوي
په آئينو کښې به کاکل جوړوي

دغه جهان به له نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلې ځلې به په شملو کښې ږدي ګل
او رس خو به جونه په کمڅو کښې ږدي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې ږدي ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې ږدي ګل

دا سې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ځاے د چا خندا نه وينم
چې مې ليده هغه رڼا نه وينم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وينم
زه نور ګلونه د دُنيا نه وينم

څو که جهان له ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو



د ارمانونو لړے جهان ړنګوي
زړه په ګوګل کښې مې جانان ړنګوي
د مينې ګل را نه هجران ړنګوي
نه کړي خاطر د غه بوستان ړنګوي

د مغ کتاب دې د رازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څه به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مې غواړی شمع رڼه يه سوزېدل
راشه يو ځل

ارمان مې دا دے که پوره شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لېدل
راشه يو ځل

خو به شوګير کړم راته وايه
واړه خوبونه راځني وتښتېدل
راشه يو ځل

که ديدن کړې تلوار راوکړه
همزولي راغلي خوروی مې تور وېبل
راشه يو ځل

عاشقان ګوره حال يې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه يو ځل

سوال د خاطر منظور کړه ياره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يو ځل



نن دې ورديل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

د ژوند کاروان مې دے دغم څپو ګړدوړ کښې
واوره فرياد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وی لرې که نږدې به وينم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره نن دې که لږ سم راته کتلی وے
واړه بناپسته به دې له نږه ځنې وتلی وے
دګتو چل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نیولې دی ماستا په رخسار کښې
او به اوبه شول توری مې په خمبار کښې
ما چې لیدلے ، ستا ښېرکښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به اوبه شول توری مې په خمبار کښې

نه در رسیږی نه درته غږ شی
نه را نه خمب شی نه را نه تېر شی
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
او به اوبه شول توری ، مې په خمبار کښې

یار یې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حېران دے
لکه سپوږمۍ وی ، ستوری قطار کښې
او به اوبه شول توری مې په خمبار کښې

زما په طمع به کړې تېرې رختونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کېږم

ماته را یاد نه دی څوک زه په ځان کښې یمه
په ژړګی غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لېونے یم چې کړم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کېږم

لېونی نه یمه چې ، د غم سودا کړمه
په تا دې اور بلیږی زړه څه پروا کړمه [1]
چې بیا هر څه چې راته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کېږم

---

[1] مترل لږنه اوږد کښې دا، مصرعې داسې دی:
لېونی نه یم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلیږی زړه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان ووینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان ووینم
جانانه ډېر درپسې ګرځمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم    دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له څمه مئین سوزېږی په ما
لکه د اور په شان سېځي ځلېږی زما
خاطره مه راځه بلېږی سره اوردونه
زه دې یاره نه یم    دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغی کا    ښېښې دګلو انګۍ کا
چې مسکۍ شې بیا سترګې مرې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره ته وی    کره چې ځه دې تن په زړوی
چې مې خلق ټول تماشې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې    دا دې خاطره په تیاره کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته ډېرې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

[1] متن لوته او دیوان کښې (تن) نشته
[2] متن لوته کښې دا بند نشته

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ترسبا به چې ژړا په تا پسې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره بنده راته معلوم یې
مسې څونه چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کښې دې ګیر کړم
اوس دې دلبره څله هیر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



ګڼې له غمه به دې سر شم بیا مزې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شې
بس اوس مې قتل ته تیار شې
اشنا زما څنې ویزار شې
په ما مې نشته خوبه خپله مې ذبې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څنګه قبول دغه بیلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
رایادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مرور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مرور شوم نو ګیلې کړه
رایادې هغه شپې کړه زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نه را درومې اشنا نو وعدې خاله کوې
هغه پرون دې خه وې ن چې بیا بیا کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

سترګې مې بې له تا نه د چا په لور نه ګوري
د ستا له مخه ښې مخونه نور نه ګوري
مرې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

زه د بل چا د مینې اشنا ښه طمعه نه کړم
زه به له نورو سره ستا مینه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیوانه کېږي (چې) دے

چې نه را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځیګر
نه کړې پروا مې پرې دلبر
نورې دې خوک چې بې واورې دغه فریاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

که بنه دې شي په سر زما
وې دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانبداد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د قام ځلمو ستړګي مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چې ته کښې ورسپړۀ ، وګورئ جهان وګورئ

دقام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دي
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دي

د نمر په څېر خپل طاقت په ټول جهان خور کړئ
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شا ته نور مه ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په وړاندې لاړو باندې مه څئ قدم سم کېږدئ

لۀ مخې لرې کړئ اړغی ځان ته کلونه کېږدئ
شي چې اغيار در ته حېران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دي
ځلمو زمونږه ځني ډېر ځلي په شا تللي دي

زۀ جهان څۀ کړم چې نمر مخيه ياره تا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

ستا د کاکل په توره شپه پورې لاشپې څۀ دي
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څۀ دي

دې تماشه ې د ژړا چې د ې خندا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

د ستا په مينه کښې د خلقو خندے خوښ يم
خود خپل عقل نه وذکار شم لېونے خوښ يم

راسره غم د لېونو شي چې صحرا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

ګله چې ما خاطر ته ياد شي ټول جهان ګل شي
لۀ ډېره هجره ضريو ګل ې د چشمان ګل شي

خداې خبر بيا چې زۀ به ستورے د سبا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تېټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې نن يې ونهٔ کړئ ځلمو بيا به يې ګله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پوره شئ پهٔ خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ وېرو وينو د امکان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
دا ډهکې مهٔ کوه
هسې د پکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلی په شان وو اول
ځوان پر ښان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائی خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے بنکاری نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږی په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com